اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې، پر تا مې ايمان راوړی، پر تا مې توکل کړی، تا ته مې رجوع کړې او ستا لپاره مې شخړه کړې، اې الله ! زه د ستا په عزت پناه غواړم چې ستا پرته بل معبود نشته- لدې چې ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات يې چې هېڅکله نه مرې، حال دا چې پيريان او انسانان مري

د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به ويل: «اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې، پر تا مې ايمان راوړی، پر تا مې توکل کړی، تا ته مې رجوع کړې او ستا لپاره مې شخړه کړې، اې الله ! زه د ستا په عزت پناه غواړم چې ستا پرته بل معبود نشته- لدې چې ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات يې چې هېڅکله نه مرې، حال دا چې پيريان او انسانان مري».

[صحيح دی] [متفق عليه دی او دا لفظ د مسلم دی، او البخاري مختصر روايت کړی دی]

د پېغمبر ﷺ له دعاګانو څخه يوه دا وه چې ويل به يې: «اې الله ! تاته مې غاړه اېښودلې(او فرمان منونکی دې يم)، پر تا مې ايمان راوړی، باور لرم او اقرار کوم، پر تا مې توکل کړی؛ چارې مې درسپارلې او پرتا مې تکيه ده، او تاته مې رجوع کړې او درګرځېدلی يم او تاته مې مخ کړی (ستا لپاره مې جګړه کړې او ستا له دښمنانو سره مې دعوې کړې دي) اې الله ! زه ستا په عزت، ځواک او غلبې پناه نيسم -پدې چې ستا پرته بل حق معبود يعنې د بندګ ور ذات نشته- له دې چې ما له سمې لارې ګمراه کړې او لدې چې راڅخه ناراضه شې، (ته تلپاتې ژوندی ذات يې چې نه مرې او نه پناه کېږې، (حال دا چې انسانان او پيريان مري).

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3056

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee